# هغه استاد چي ما پيژندی

## «محمد ګل نوري»

په ګران افغانستان کښي ،دادبي اوفلکلوريک تاريخ ريښې ډيري لرغوني دي.دادب ګلان ئې په ادبي سيرکښي غوړيدلي اوځليد لي دي.اودخپلي ځلاوړانګي ئې دهيواد ګوټ،ګوټ ته ليږدولي دي.دهيواد نه بهراودهيوادپه دننه کښې دخلکوپه زړنواوفکرونوکښي اغيزي ښندلي دي،دغه ادبي او فلکولوريکوخزاغونودتاريخ په اوږدوکښي لاري روښانه کړي دي.اوخپل تاثيرات ئې ښند لي دي.زموږليکوالانواودادب پوهانوپه دې لاره کښي که ډيريالږ.کارونه کړي دي،خو هريوئې دستايني وړګڼل کيږي.چاه ډيرادبی اثار پريښي دي اوچاه بيا دخپل توان سره لږليکني کړي دي، خودهر چاه زحمت دقدروړګڼل کيږي.دادب اوفرهنګ مينه والوکه زده کونکي روزلي دي اويائې راتلونکونسلونوته روښانه تاريخي،ادبي اوفلکولوريکي ليکنی پر ايښي دي ،خپل تاريخ ئې روښانه ساتلی دی.

زموږ د ګران هيوادافغانستان پښتني شاعرانو،اديبانواوعالمانوشتون دهيواد دځلانده تاريخ استازيتوب کوي.که څه هم په پښتو هنري ادبياتو کښي دګوتوپه شميراثارپاته دي،خوبرسيره پردې هم زموږدهيوادتاريخ پرې روښانه دی.موږ ته نوموړی ادبيات يا په ليکلي توګه را پاته سوي دي اويا هم په شفاهی توګه راپاته سوی دي چی موږګټه ځيني اخلو.

شفاهي ادبيات په شفاهي توګه ديوه نسل څخه وبل نسل ته دنقلونو،کيسواو افسانوپه څيرپاته کيږي.دشفاهی اثارويوه ډيره برخه ورکه سوې هم ده. ځکه چی دخلکوپه ذهنوکښي دانسانانو سره دوخت په تيريدوسره مړه سوي اودمنځه تللي دي، همدغسي موږوينوچی ليکلی کتابونه اونويشتې هم ورکی سوی دي،يوازي ئې نومونه پاته دي.هغه شفاهی ادبيات چي ترموږپوري رارسيدلي دي همدغه يوغنيمت شته او شتمنی ده.

زموږ دادب اوفلکلورلوړشخصيت هغه استاددی چي مادرس پرلوستی دی اوزده کړه مي ځيني کړې ده.(ا ستا د محمد ګل نوري صاحب) اوزموږدهيواد تاريخي ، فلکوريکه پانګه ئې خوندی ساتلې ده، په دغه برخه کښې دپام وړخد متونه نه هيريدونکي دي.دخدای بخښلي محمد ګل نوری صاحب ليکنی ډيري دي،خودنړيوالودپام وړاثرئې دملی هنداري شهکار نقلونه دي چي دهيواددګوټ،ګوټ ځخه دفرهنګ اوکلتور،تولنپيژند نې هنداره ده.ځکه ئې نوم ملی هنداره ده.

خدای بخښلی استاد محمد ګل نوری؛دکندهاردښاراوسيدونکی،په خټه يا قوم نورزی دی اودمياصاحب مشهورديني عالم لمسی دی.دغه استادچي زه ئې پيژنم : ټول وخت ئې دکتاب ليکلو،ادب سره سرو کاروو.د خپله ښکلې ځوانی په ليکلواودافغانستان دفرهنګ په برخه کښې تيره کړه،محمد ګل نوري اديب،فاضل يوه اودقلم په ژبه ئې دهيوادښکلی انځوروړاندی کولای سؤ.خدای بخښلی نوری صاحب نه يوازي په افغانستان کښي بلکی دنړۍ په ګوټ،ګوټ کښي پلويان اومينه وال درلودله،همدغسي په ختيځ کښي دفلکلوراوادب يوه وتلې څيره وه.اودنړۍ په ستروفلکور پيژندونکوکښي يوه وتلې څيره ده،هغه په ډيره غريبۍ، پريشانۍ کښي ډيرسترکارونه ترسره کړه.اودوتيزي ناتوانۍ په سبب ئې ډيرلږکتابونه خپاره سوی دي، يوډيره برخه کتابونه ئې لاهم نا چاپه پاته دي چي دهيوادستره فرهنګي ذخيره ګڼل کيږي.دهغه داخيرووختونوتراژيدي خوراډيره پريشانونکې ده.زه هغه وخت کوچنۍ وړکی وم (فکرکوم چي د۱۳کالوبه وم)،خودغه کيسه می يادته را ځي چي: زه يوه ورځ دنوروورځوپه څيردخپل پلارسره يوځای دکندهار ددولتي مطبعې ددفترپه لورد کندهاردوخت اطلاعات اوکلتوردفتر ته تللم.څه وخت چی دکندهارپه چهارسوکښي ښاري سرويس پرخپل تم ځای ودريدی،نو زما دپلارخدای بخښلي محمد علم بځرکی سترګي پريوه سپين ږيري سړي ولګيدلې،نو سمدلاسه ئې زه هم ترلاس ونيولم اودهغه سپين

ږيري سړي ومخ ته ئې ودرولم،وږږغ ئې کړه نوری صاحب دلته څه کوي، نوري صاحب په داسي حال کښی چي خپل دواړه لاسونه ئې دیوه (یوم) پرلاستي تکیه کړی وه اودناتوانۍ څخه یوه اندازه تکانونه ئې هم دلاسو احساسیدل... خدای بخښلي محمد علم بڅرکي دنوری صاحب څخه بیا وپوښتل خیریت دی؟.نوري صاحب دلته څه کوي؟.... نوري صاحب په ریږدیدلی آوازوویل:بڅرکی صاحب ؛ سهاروختي دلمرخاته سره راغلی یم،غواړم چي روزانه مزدوری وکړم،خولاتراوسه ولاړیم اوهیچاه هم دکار غوښتنه نه ده را څخه کړې،نود لته ولاړیم.... ماچي نوموړی سپین ږیری ولیدی ،دهغه ټوله ږیره سپینه سوې وه اووریځې لاهم سپینی سوی وې. اودسروریښتان ئې غټ اوسپیني څوښي ئې ترلنګوټې راوتلی وې.دمخ په ګونجوکښې ټوله غمونه ،خواریَ اودردونه ښکاریدل.ما چي په دغه څو شیبوکښي دنوري صاحب خبري دخدای بخښلی محمد علم بڅرکي سره واوریدلې ما داسي ګومان وکړی چی زه دزمانې دیوه غټ فیلسوف اونابغه مخ ته ولاړیم ،افسوس مي دڅانه سره وکړی چي دغه سترانسان دزمانی ناخوالوڅومره کړاونوودغه دندی ته مجبوره کړی دی.دغه وخت چی نوري صاحب خبري کوي زما توجو یوځل نوري صاحب اوبل ځل زماپلارته سي، دغه وخت زماپلار هم په یوه غرقه اندیښنه کښي دنوري صاحب خبري په غورسره اوري.

پسله هغه چی دخدای بخښلي نوري صاحب خبري زما پلار واوریدلې نو سمدلاسه ئې دنوري صاحب سره خدای او هست یوه مؤقتي مرسته وکړه او په ډیره پټه توګه ئې یوه اندازه پیسې په لاس کښي ورکښیښولې، چي ما خپله هم ونه لیدلې، خو! دنوری صاحب دډیر ټینګارسره،سره محمد علم بڅرکی دغه ناچیزه پیسې په ومنلې . اوخدای بخښلي نوري صاحب ته ئې دسبا دپاره په دولتی مطبعه کښي دکاربلنه ورکړه،دغه وخت خدای بخښلی محمد علم بڅرکی دکندهاردمطبعې د مدیرپه توګه دنده ترسره کوله، موږ

بيرته دنوري صاحب څخه رخصت واخيستی اودکندهار داطلاعات او کلتورپرخوايا لوري په بل ښاري سرويس کښي راسپاره سو.اوزما دپلار دفترچی مخکي مي وويل دولتي مطبعه کښی وو.ورغلو،دغه وخت دخدای بخښلي محمد علم بڅرکی په دفترکښي ځيني دوستان هم راتلل، نوخدای بخښلي بڅرکي صاحب دغه کيسه ودوستانوته هم وکړه، ماچي دسترګوليدلی حال ليد لی وو. نومي دنوري صاحب په باب ډيري خبري ددوستانوڅخه واوريدلې هريوه نوري صاحب پيژنده او په باب ئې ځانګړی ستاينې ددغه لوړانسان کولې، نوزه نورهم دغه پيښي ته په ډيرغورسره متوجه سوم.

البته پته دي پاته نه وي چي دغه وخت خدای بخښلی محمد علم بڅرکی دکندهاردمطبعې مدير وو. نوري صاحب دوخت حکومت دغه وخت تقاعد کړی وو، نودی مجبور وو، چی دغه سختي ورځنۍ مزدوری ته مخه کړي. اودغه درنه دنده پر ځان ومني.که څه هم دغه سخته دنده پردغه عمرباندي دخدای بخښلي نوري صاحب دپوهي ،لياقت ،قلمی ژوند او قلمي ګوتو سره وړنه وه،نوری صاحب په پوره ايمانداری ،لوړهمت اوپښتنی غرورسره دپښتون قوم دپاره ډيرځان ستړی کړی دی.په ټولو پښتنی سيموکښې بشپړه څيرنه کړې ده،دپښتنو دودونه ئې په جلا،جلا توګه څيړلي دي،ښاغلي خدای بخښلي محمد ګل نوري صاحب دپښتنودپاره ليکي را نغښتی دي اوبې شميره خدمتونه ئې کړيدي. خودغه ټوله خبري دده په باب دخدای بخښلي محمد علم بڅرکی په دفتر کښي وسوې.

په سبا خدای بخښلی محمد ګل نوری صاحب دخپلو سپينو پاکوکاليوسره راغلی .اوسمدلاسه خدای بخښلی محمد علم بڅرکي دطلوع افغان دتصيح په څانګه کښي دمصحيح په توګه پردنده وګماری.او سمدلاسه ئې مکتوب دلزومی اجيرپه توګه دکابل دمطبعې اړونده څانګی ته وليږی.اونوری صاحب ته ئې تنخاه ورحواله کړه،دښاغلی نوری صاحب تنخاه حواله ده خو دکابل چاورواکی نوري صاحب دمقرری مکتوب نه مني او داسی يادونه

کوي : ( څه وخت چې یو څوک تقاعدسی بیا اجیر هم نه مقررکیږي.) خو! خدای بخښلی محمد علم بڅرکی بیاهم دمکتووبونوسلسله جاري ساتی او چارواکوته خبرورکوی چې:دتصحی په برخه کښې دسخت ضرورت پربنسټ نوری صاحب ته دغه دنده ورسپارل سوې ده . په دې ارسال او مرسل کښې یادمکتوبونوپه لیږلواوراليږلوکښی وختونه تیرسول.خو دمحمد ګل نوری صاحب تنخاه چالانه وه.ترڅو چی خدای بخښلی محمد علم بڅرکی هم ددغه ځایه څخه تبدیل کړل سو.

دیادولووړده چی په دغه وخت کښی چی استاد محمد ګل نوری صاحب دکندهارپه دولتي مطبعه کښې دتصحیح دمسؤل په توګه په اجیره توګه دنده ترسره کوله، دغه وخت زه ممکن په اتم ټولګی کښې وم .دغه وخت داتم ټولګی فارسی ډیرګرانه اوسخته وه،نوزه پراستادمحمد ګل نوری صاحب باندي زده کونکی وم،هغه برسیره پردې چې ماته دافغانستان دفرهنګی مسائیلوپه باب ډیري شیریني کیسې اوتاریخي یادوني راته کولې ،خو؛ دفارسي دزده کړی په باب ئې په ډیره شیرینه ترجمه اوفارسي را زده کړه، چی دامتحان په وخت کښي په فارسی کښې می دفهم وړنمرې ترلاسه کولې،دخدای بخښلي نوری صاحب ، طریقه ددرس ډیره اسانه اودپوهیدلو وړمیتودونه ئې درلودله،زماهیڅ وخت ددې غیرتي سپین ږیري خبري او دده دپوهي لوړپوهنیزبیانونه نه هیریږي.

پسله هغه چی استاد محمد ګل نوری صاحب دکندهاردتصحیح دڅانګی څخه دخدای بخښلي محمد علم بڅرکی دتبدلۍ سره سم بیرته بې کاره سو. نوویل کیږي چي هغه دمستودخرڅولویوساده ددکان مخته دیوه کاشین اوپیالۍ په وسیله مستې خرڅولې،چي داکارددغه لوړشخصیت سره وړنه ؤ.اوپه نړیواله کچه دهغه نوم اونښان ډیرلوړاودافغانستان په پیژندنه کښې لوی نوم درلود.دهغه نوم دوخت داتحادجماهیرشوروی چی دوخت سترقدرت ؤ.دختیځ پیژندني په څانګه کښي داستادمحمد ګل نوری صاحب پر کتابونوپه

ډیره بیا دملي هنداري پرفلکلوریکو نقلونوباندی دژباړي په برخه کښي د تاریخي فلکوریکو کیسوپه برخه کي په روسي ژبه ډیرکارسوی او تر ننه پوري داستادپرپاته شؤنوباندي کارکیږي.چی په دې باب دغه کیسه دیادولو وړبولم:

هغه وخت چی محمد ګل نوری صاحب دمستودکان درلود،داتحادجماهیری شوری دختیځ پیژندني دڅانګی یوعلمی معتبره ختیځ پیژندونکی دمحمد ګل نوری صاحب لیدوته دڅیړنواوڅینو پوښتنودلاسته راوړلوپه مؤخه راغلل، لومړی دغه علمی هیئت دافغانستان دوخت داطلاعات اوکلتوروزارت ته ورغلل.خو! دکابل داطلاعات او کلتور وزارت نوموړی درند خارجی هیئت کندهارته واستوی،څه وخت چي کندهارته هیئت ورورسیدی ،نو پسله څه وخته ئې دکندهاردوالي سره ملاقات وسؤ، او داستادمحمد ګل نوری صاحب پوښتنه ئې څینی وکړه،خودبده مرغه زموږ.دکندهار والي دغه وخت دغه سترانسان استادمحمد ګل نوري هیڅ هم نه پیژنده، نوئې سمدلاسه دکندهاراطلاعات اوکلتورته احوال ورکړه،چی دلته داتحادجماهیري شوروي ختیځ پیژندونکی غواړی داستادمحمدګل نوري سره وګوري، او همدغه پوښتنه ئې هم وکړه (چي هغه څوک دی)؟.دکندهاروالي خو! په دې هم هیران سو، چی دلته په کندهارکښي دومره لوړشخصیت سته چي دنړۍ دستر قوت اتحادجماهیري شوروي ختیځ پیژندونکی ورته اړدي او دملاقات غوښتنه ئې کوي،خو زه ئې نه پیژنم... دنومړی هیئت غوښتنه دا وه چی داستاد محمد ګل نوري صاحب څخه دوخت غوښتنه وکړی اوهغه خپل حضورته ورومني، هیئت فکرکاوه چی استاد به په څومره بنګله کښي دڅومره خدمتکارونو سره په څونده معتبره څای کښي استوګنه کوي،نو که ئې موږ ته دوالی صاحب یا دوخت داطلاعات او کلتورپه سپارښتنه موږ ومنلو. ښه به وي، نو څه وخت چې دکندهار داطلاعات او کلتورعمومی مدیر صاحب ته خبرورکړی، اطلاعات اوکلتورهم په ګښت کښي سوه،

ترڅو داستاد ځای اوکور پیداکړي، خودوی پیدا نه کړای سو. نویوه کس وویل : استاد محمد ګل نوري دسردارمحمد چی دکندهار په دولتي مطبعه کښي کارمند ؤ.اوداستاد محمد ګل نوري ددوستانو دجملې څخه ؤ، دهغه څخه باید پوښتنه وسي، ښاغلی سردار محمد دمطبعې کارګر وویل او! هغه زما ددوستانوڅخه دی اواوس دملا ګلمادپه کوڅه کښي دیوه دکان مخ ته مستې خرڅوي، خپله دده (نوری صاحب)کورهم دملا ګلمادپه کوڅه کښی وو. خوپه هرصورت ښاغلی سردار محمد دشوری دختیځ پیژندني دهیئت سره په موټر کښی داستاد دلیدلودپاره کابل بازارهغه سیمي ته ولاړی، کوم چی استاد هلته مستې خرڅولې،ویل کیږی چی دغه دروند خارجی هیئت چی داستاددغه حال ولیدی،ډیر پریشانه سوه، همدغسي دښار هغه دکاندارانو چی دغه دولتي موټران په دغه لوړفیلسوف پسي راغلي خارجیان ولیدل، نوهیران پاته سوه چی زموږ په منځ کښي دومره غټ انسان وجود لري چي دبهرڅخه ئې خلک دپوهی څخه ګټه ترلاسه کوي.... هیئت داستاد مخی ته دژباړونکی سره ودریدل او استاد هم خپل دمستو تاغاردکاندارته وسپاری اوخپله دهیئت سره دکورخواته رارهی سؤ.استاد دختیځ پیژندنی وګروپ ته بشپړه معلومات دخوورځوپه جریان کښي ورکړه، خو دیادولوړخبره ده چي ممکن استادئې دځانه سره یوه رسمي هوټل او میلمه ستون ته بیولی وي.

داچی استاد په څونده لوړه کچه دختیځ پوهني راغلي هیئت ته معلومات ورکړي وي، داخویوه برخه اودغه بله برخه چي دنړیوالي ختیځ پوهنی هیئت به دافغانستان دد غسي پوهانو دژوندپه باب څه فکرکړی وي،دابیا بله موضوع ده، مخکی هم په اروپا اونړیواله کچه دپوهانوپه باب دغسی کیسې او خبري تیري سوي دي، چي البته دغه ډول ناخوالی دهیواد دبیسوادئ او دهیواددفرهنګ په مقابل کښي دبې پروائی په معنا سره تعبیر کیدای سي.دبیلګې په توګه ددانتی ترا ژید یکه کیسه چي پسله مړیني څخه ئې دنړې پوهان په اثاروپسي ګرځیدل اوهراثرئې لکونه قیمت درلود.همدغسی

زموږمحمد ګل نوری صاحب هم دهیواد دفیوډالی شرایطواودفرهنګ ته دنه پاملری په سختوڅپیړووهل سوی یوعالم اودهیواد دفرهنګ خد متکارۀ.

**دخدای بخښلي محمد ګل نوري دوفات بد شرایط:**

خدای بخښلی محمد ګل نوری دهیواددفرهنګ په باب ډیرخد متونه کړی دي، چی زموږټولنه ئې دفرهنګ په هغه ستاینوانځورکړې ده کوم چي اصلی افغان پیژندنه ده. دنوری صاحب ټوله لیکني زموږدفرهنګ ننداره ده.اودټولني پیژندنی سره په واقیعي ډول اړیکي لري.اودپښتنوځانګړي رازونه لکه:عشق،مینه ،وروروليوزړه ورتوب،توریالی توب،ننګیالی توب، غیرت،دکشرانواحترام،دمشرانوحقوق،دښځواحترام اوعزت،میلمه پالنه، هیواد پالنه،پښتني هوډاوغرور ،قرباني ورکول،یا سرښندنه دعزت په مؤخه، دافغانستان دشتمنیو ساتل اونړۍ ته داورپه ګوته کول چي افغانستان یو دطبعي منابعوڅخه شتمند هیواددی،دځنګلونښودل،دزاعتی توکوستاینه ،ټوله هغه څه دي چي ښاغلي نوري صاحب په خپلو کتابونوکښي،علمي مقالو کښي په ډیره ریالیستیکه توګه څیړلي دي یاښودلي دي، چي دافغانستان دستروخدمتونوڅخه ګڼل کیږي.

داخو هغه څه وه چي خدای بخښلي محمد ګل نوري صاحب دخپل ژوندپه اوږدوکښي دهیواداودافغانستان دخلکودپارترسره کړه، ولی دوخت چارواکو دنوري صاحب په ژوند کښي هیڅ هم دهغه دژوند دسمون دپاره ونه کړه.او نه ئې داسي شرایط ورته برابرکړه چي: دنوري صاحب دتحیق دپاره دي زمینه سازی ورته وکړي، یا حتا دهغه دپاره دي دهغه دنویشتوزمینه دنوري صاحب په ژوند کښي برابره کړي. پورته بیان موږ تاسو ولوستی چي دنړۍ دسترقدرت لرونکي ختیځ پیژندونکي دده په احترام سره په زرهاوکیلو متره لاره ووهل اوترڅوددغه سترانسان دعلمي تجریبواوپوهي څخه ئې ګټه تر لاسه کړه، دوخت حکومت هم په ده باندي داسی فخروکړی چي: دلته موږ دغسي کسان لروچي په پښتنی ادب کښي خارجي پوهان ئې دلیدواوکتني

دپاره ځانونه ترده پوري رارسوي. واقيعي خداى بخښلى محمد ګل نورى صاحب دافغانستان يوه فرهنګي ذخيره وه اوپه افغانستان پيژند نه دپښتنو په ځانګړنوکښي به دمحمد ګل نورى اثاربې مثاله وي. روح دې ښادوي:

هغه وخت چي محمد ګل نوري صاحب وفات سو،زما ډيرښه پياددي، چې ګران استاد وفات سؤ،دغه وخت به په تقريبي توګه ۱۳۴۶يا ۴۷هـ ش كال كيده چي دكندهارمنورينوئې دهغه دكورنۍ سريوځاى جنازه تيروله او دګوتوپه شمارډيرلږخلک ئې جنازې ته راغلي وه، خو! دبده مرغه دده دمرګه څخه وروسته دوخت چارواكي دخداى بخښلي دمړيني څخه خبر سوه،نودامى هم پياددي چي را ډيوګانو اواخبارونوهغه تبصيرې پرووېلي اووې ليكلې لكه چي محمد ګل نوري دافغانستان يولوى چارواكى تيرسوى وي.نو ماته هم هغه تصورچي خداى بخښلى نوري صاحب په سپينه ږيره ورځنى مزدورۍ ته محتاج وو،يادمستو په خرڅولو بخت وو، يا هم دهغه دجنازې مرسم چى زما ياديږي، ډيرسره په توپير كښي وه.

زما سره دغه ارمان موجودؤ، چى دخداى بخښلي نوري صاحب نوم لكه څنګه چى زما په زړه كښي دى، هغه په دغه مينه سره دباندي هم وخلكو ته ترهغه ځايه پوري چي زه خداى بخښلى استادمحمد ګل نورى پيژنم هم هغه سي ئې ورته څرګند كړم. نو ځكه هغه وخت چى داحمدشاه بابا ټولنه جوړه سوه،زموږپه علمى برخويادكارپه خونوكښي يو ډيپارتمنت مودمحمد ګل نوري صاحب په نوم ونوموى،چي دادبياتوپه برخه كښې د قدر وړخدمتونه هم ترسره كړه اوتراوسه هم دغه ډيپارتمنټ دنوري صاحب دنوم سره ټراولري.اوهمدغسى دخداى بخښلى محمد ګل نوري دنامتو اثر (ملي هنداري) په نوم موداحمدشاه بابا دعلمي ادبي ټولني نشراتي اركان ملي هنداري يواونيزه جريده خپره كړه، چى په وروسته كښي نوموړې جريده په يوه ارزښت ناكه مجله سره واوښتل اوخپل فعاليت ـ علمى ادبي

مقالې ئې تر اوسه هم دهالېنډ په هېواد کښې خپرېږي. دنوري صاحب دي ياد تل اوروح دې روښانه وي.